د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Access to Information Commission**

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال د وري ۲۷ |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | ښاغلی عین‌الدین بهادري د کمېسیون کمیشنر او رییس |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام ، کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري، حقوقي سلاکار محمدحسن پویا، تخنیکي سلاکار ولي‌الله مصباح. |
| دغونډې تنظیمونکی | محمدحسن پویا |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اونیزه غونډه نن د ۱۳۹۹ کال د غوايي په ۲۷ د کمېشنرانو، دارالانشا رییس او د کمېسیون سلاکارانو په شتون کې تر سره شوه. د نورو موضوعاتو تر څنګ« د کمېسیون پنځه کلنې ستراتېژۍ په اړه د همکارو ادارو او متخصصینو اندونه څېړنه» او د « اړتیا وړ سلاکارانو ګمارنې څرنګوالی» د دې غونډې له اصلي سکالوګانو څخه و.

په پیل کې د کمېسیون پنځه کلنې ستراتېژۍ مسودې په اړه د همکارو ادارو اندونه په ترتیب مرور شول او پرېکړه وشوه چې د هغو مهم موضوعات او وړاندیزونه د دې ستراتېژۍ په وروستي متن کې درج شي. وروسې؛ د سلاکارانو په شمېر او څرنګوالي باندې بحث وشو. د کمېسیون د اړتیا پر بنسټ په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د څارنې او ارزونې سلاکار، د پالیسۍ او پلان سلاکار د ډېر ژر وګمارل شي. د دارالانشا ریاست ته دنده ورکړل شوه تر څو د ذیربطو بخشونو سره په همکارۍ د دوی د دندو لایحې لومړنی متن تر راتلونکې غونډې ترتیب کړي تر څو پرې بحث او پرېکړه پرې وشي. د دندو لایحې ترتیب څخه وروسته یاد بستونه د کمېسیون او د (ACBAR) کار موندنې سایټونو کې اعلان شي

د پورته سکالوګانو تر څنګ، د کمېسیون دوه مهمو راپورونو«ملت ته د دولت ځواب ویلو کلنې پروګرام په اړه د کمېسیون راپور» او « د ادارو له وېب پاڼو د کمېسیون څارنې راپور» په اړه هم بحث وشو. په غونډه کې ملت ته د دولت ځواب ورکول پروسې په اړه د کمېسیون راپور تخنیکي سلاکار لخوا د دارالانشا رییس په همکارۍ بشپړولو باندې ټینګار وشو. د ادارو له وېب پاڼو څخه د څارنې راپور بیروني متخصص ته د لېږلو لپاره د کمېسیون عمومي رییس ته واستول شي.

په پای کې د کمېسیون د پروپوزل بشپړولو او د هغې استول په کابل کې د هند سفارت ته، په خارجه چارو وزارت کې د کمېشنرانو د سیاسي پاسپورټونو تعقیب، د کمېشنرانو د عضویت او د دارالانشا د کارکوونکو د نویو کارتونو چاپ په اړه اړوندو څانګو ته هدایتونه ورکړل شول.

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

درنښت

د کمېسیون رییسعین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي